ليکوال: م. رقيب
کاپی ایدیت/نشر : ago-team
maqalat@afghan-german.de

نیټه ۲۰۱۰/۱۰/۱۳م

# د چترال او شمالي پښتونخوا سيمه
## او د انګريزانو پاليسي

چترال د پاکستان، د خيبر- پښتونخوا د ايالت له اړوندو سيمو څخه ده، چي ۱٤۸۵۰ کيلو متر مربع پراخوالی او تقريبا ۳۱۸٦۸۹ وګړي لري.

د چترال غربی سيمه د پاکستان د شمال ختيز په وروستنی څنډه کي پرته ده، چي د افغانستان د واخان له تړانګي تر دير پوري شمالأ او جنوبأ او له ګلګت او هونزا نيولي د افغانستان د کونړونو تر سرکرښي پوري شرقأ او غربأ پراخوالی لري. چترال په خپله ټوله شاوخوا کي د دنګو غرونو په غيږ کي پروت دی چي يوازي د څو ګوتو په شمار غاښو له لاري ورته لاري راغځيدلي دي، خو له دي سره سره دا غاښي په ژمي کښي د ډيرو واورو د وريدلو له کبله د تيريدلو وړ نه دي.

چترال ته د شمال (واخان ) له خوا د براغيل او منډل د کوتلونو، او د ختيز (ګلګت) له لوري د شندور د کوتل او د سويل(دير) له خوا د لواري له کوتله لاري ورغلي دي. په لويديز کي چترال ته د ننوتلو ډيره آسانه لاره د افغانستان له ددي څخه شوني ده. يعني له پيښوره چترال ته ډيره نږدې لاره له جلال اباد، کونړونو او برګمټال څخه راغلي ده چي په ارنډو کښي د چترال سيمي ته ور ننوځي.

د هندوکش د غرونو د لړی تر ټولو جګه څوکه تراجمير ده چي ۷۷۰۸ متره لوړوالی لري او په چترال کښي پرته ده. د چترال سيند، د چترال د ښار له لويديزي غاړي تيريږي. د چترال رغيانه له شمال څخه سويل خواته غځيدلی چي خورا زړه راکښونکي طبيعي منظری لري. د چترال د غرونو دنګي څوکي او ژوري او تنګي دري خورا هک پک کوونکي او د ننداري وړ دي.
برسيره پر بومي چتراليانو د افغانستان پښتانه، نورستانيان، وزبکان، او تاجکان هم هلته ژوند کوي چي د جهاد په کلونو کښي هملته پاتي شوي دي. د افغانستان له شمال ختيزو ولايتونو څخه د جهاد په کلونو کښي پاکستان ته د چترال له لاري ډير تګ او راتګونه کيدل.

په چترال کښي وګړي ټول مسلمانان دي، خو اوس هم هلته تقريبا د ۳۰۰۰ په شمير کسان شته چي يو غير اسلامي دين لري او د چترالي کافرانو په نامه ياديږي( افغانستان ،د لويي دوپري کتاب۵۷ مخ.)

په چترال کښي ډيري خلک په خوار او کالاش ژبه خبري کوي خو پښتو او اردو هم پکښي ويل کيږي.

لنډه تاريخي کتنه : ويل کيږي چي چترال د مقدوني سکندر له خوا د ۳۲۷ زيږديز کال په شاوخوا کښي ، او د ګوډ تيمور له خوا په څوارلسمه پيړی کښي نيول شوی وو.

په ۱٦ پيړی کښي چترال د شاه رايس له خوا ( چي د بالتي د واکمنانو له پښت څخه وو) اداره کيده. د آدم زاده د قبيلي نيکه چي سنګين علي نوميده د شاه رايس سلا کار وو. نوموړي ، شاه رايس له واکمنی څخه را وغورځاوه او د واک ولکه يي په خپل لاس کي واخيسته.

د آدم زاده د قبيلي يوه څانګه چي د کټور په نامه ياديږي د چترال واکمنه کورنی وه چي هلته يي تر ۱۹٦۰ز پوري واک چلاوه. د چترال واکمنان د مهترانو په نامه ياديدل چي تر پايه پوري يي دا نوم وساته.
په کال ۱۸۵۷ ز کښي امان الملک د چترال واکمني په داسي حال کښي واخيسته چي په خپلي کورنی کښي ټول واک ته تږي کسان يي له مينځه يوړل.. يوازي يو ورور يي چي شير افضل نوميده تري په تيښته بريالی شو نوموړی په ګاونډيو ملکونو کښي پټ شوی وو. انګريزان چي پر هندوستان باندي د روسانو له يرغله په ډار کښي وو نو په ګلګت کښي يي يو پوځي ځواک ځای پر ځای، او هم له امان الملک سره يي اړيکي ټينګي کړي، او د څو کلنی مالي مرستي په بدل کښي د انګريزانو غير مستقيم خو د کشمير د مهاراجا مستقيم تحت الحمايه وګرځيد چي د خپل ژوند تر پايه يي


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

دا اړیکه وساتله.  انګریزانو، له امان الملک سره  په کال کښې ۱۲۰۰۰ روپۍ اود یو شمیر وسلو او مهماتو مرسته کوله.

له چترال سره د انګریزانو لیوالتیا د هغوی  د هغې پالیسۍ یوه برخه وه چې " مخ پر وړاندې پالیسی"  « فارورډ » نومیدله، هغوی په کال ۱۸۷۶ز کال کې په  ګلګت کښې د خپل استازیتوب اداره پرانیستله. انګریزانو په ملکنډ کښې خپل لوی ځواک ددې لپاره ځای پر ځای کړي وو چې د چترال لاره پرانیستې وساتي. په همدې اړه ددې لارې په اوږدو کښې دوی هغوپښتنو توکمونو ته چې ددې لارې په اوږدو کښې پراته دي لکه د دیر پښتانه ، رانې زئ  او نور تنخواګانې ورکولې چې د غولارو د خوندي ساتلو لپاره له دوی سره  همکاري وکړي. دغه  لنډۍ په پښتونخوا کې له میرڅمن سره د همکاري څرګند پیغور بلل کیږي :

چیرته لندن چیرته چترال دی        بې ننګي زور شوه انګریزان چترال له ځینه

په کال ۱۸۹۲ زکښې امان الملک د زړه د حملې له امله ناڅاپه مړ او د کټور په کهول کښې د واک د نیولو لپاره د پخوا په شان خونړۍ سیالي را پیل شوه. د امان الملک  له پښته ۱۶ زامن پاتې شوي ول. ددوی په مینځ کښې افضل الملک خپل څومره ورونه یې چې ګیرولای شول ووژل خو یو څه ترې ژوندي شاوخوا ملکونو ته وتښتیدل. په پای کښې افضل الملک د ډګر برمیال را ووت او د چترال د مهتري پر ګدۍ بې ډډه ولګوله.

د امان الملک بل زوی چې نظام الملک نومیده په ګلګت کښې د انګریزانولښکرکوټ ته پناه یوړه او د چترال د ګدۍ د نیولو لپاره یې له هغوی څخه مرسته وغوښته، خو انګریزانو یې غوښتنې ته مثبت ځواب ورنکړ.

د امان الملک ورور، شیر افضل چې د امان له ناتاړه ژوندی پاتې شوی او افغانستان ته تللی وو په پټه له یو ورکوټي پوځ سره د ۱۸۹۲ په  نوامبر کښې پر چترال ور ننوت افضل الملک او د هغه ورور  چې دواړه یې وریرونه کیدل مړه او ځان یې د چترال مهتر اعلان کړ، خود انګریزانو له خوا په رسمیت ونه پیژاندل شو.
نظام الملک، د امان الملک بل زوی چې په ګلګت کښې اوسیده، د انګریزانو له خوا را وپارید او له ۲۵۰ کسیز کشمیري پوځ سره چترال ته ولاړ. شیرافضل یې د مقابلې لپاره،    ۱۲۰۰ کسیز ځواک ولیږه خو ټول د نظام خوا ته ور واښتل. شیر افضل چې خپل ژوند یې له ګواښ  سره مخامخ ولید، افغانستان ته وتښتید، او نظام د چترال مهتر شو.
نظام له هماغو لومړیو بې وزلی او په خلکو کښې بې دومره ملاتړ نه درلود خو د انګریزانو په مرسته یې یوه کمزورې اداره جوړه کړه. انګریزانو له ګلګت څخه یو کپتان له سلو کسو سرتیرو سره چترال ته ولیږه چې  د نظام ملا ور تړي او هم یې د ګلګت او چترال تر مینځ یو شمیر امنیتي څوکۍ جوړې کړي.

د امان الملک بل تښتیدلي زوی امیرالملک د جندول د خان جونګړې ، نومیالی غازي عمراخان ته پناه وړی وه او په دې توګه بې ځان له کورنۍ ډله ییزې وژنې څخه بچ او په مناسبې شیبې کې بې د چترال د پلاز د نیولو لپاره ګام را اوچت کړ.
دلته د عمراخان پښه په ستونزه کې را ګډیږي. په کال ۱۸۹۰ ز کښې د ګلګت ایجنسۍ د هندوستان برطانوي حکومت ته خبر ورکړی وو چې عمراخان که څه هم یوازې د جندول خان دی خو د هغه نفوذ پر ټول باجوړ باندې شته"او له چتراله تر پیښوره ډیر مهم مشر ګڼل کیږي."

امیرالملک چې هغه وخت  شل کلن وو د ۱۸۹٤ ز کال د مې په میاشت کښې چترال ته راغی او داسې بې وښودله چې د عمراخان له بندیخانې څخه را تښتیدلی دی. امیر د نظام له خوا په شفقت او ورین تندي ومنل شو. امیر له دغې شیبې څخه ګټه واخیسته او په خاینانه توګه، د ۱۸۹٥ ز کال د جنورۍ په لومړۍ نیټه یې نظام او د چترال د کابینې ټول مهم غړي ووژل او ځان یې د چترال مهتر اعلان او د رسمیت پیژندلو غوښتنه یې وکړه. انګریزي افسرانوپه رسمیت ونه پیژاند او د مرکزي حکومت امر ته سترګې په لاره پاتې شول. په دې وخت کښې عمراخان له یو لوی لښکر سره چترال ته راغی چې له خپل ملګرې امیر سره مرسته وکړي، او خپل دریز او پښې په چترال کښې ټینګې کړي. مګر امیر، د عمراخان د مټ له زور او نومیالیتوب څخه ډاریده او ویې نه غوښتل چې نوموړی دې پر چترال بانده خپله اغیزه را خپره کړي. په پای کښې جنګ ونښت او  عمراخان چترالیانو ته سخته ماتې ورکړه. له دې چې عمراخان له امیر کار وانشو اخیستلای نو شیر افضل یې د چترال مهترۍ ته را وباله، شیر افضل هغه څوک دی چې دغسې یوې شیبې ته شپې ورځې سبا کولې. شیر افضل په چټکۍ چترال ته راغی او ځان یې مهتر اعلان کړ. عمراخان یې اعلان ومانه او  ملاتړته یې چمتووالی وښود . خو د انګریز ښکیلاکګر حکومت له شیرافضل سره د هر راز راکړې ورکړې له کولوڅخه ډډه وکړه، او ورته یې وویل چې دعوا یې د منلو وړ نه  ده. برسیره پر دې انګریزانو عمراخان ته اخطار ورکړ چې ډیر ژر دې له چتراله ووځي ، که نه نو له ناوړو پایلو سره به مخامخ شي. په پای کښې جنګ ونښت او د انګریزانو تیت ځواکونه د عمراخان له خوا تر سخت برید لاندې راغلل، دارنګه چې د


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

هغوی یو سیکهـ ټولی له مینځه ولاړ او دوه انګریز افسران فولر او اډوارډز یرغمل ونیول شول. د چترال لښکرکوټ(حصار) چیرته چې د انګریزانو نور ځواکونه او د هغوی سیمه ییز بدرګه ځاي پر ځاي ول په کلکې او له ډیر نژدې واټن څخه کلابند شول.

په دغه حالت کښې انګریزانو ته ، په کلا بندۍ کې د خپلې را ایسار شوې قطعې ژغورل ډیر اړین ول. نو انګریزانود ۱۸۹۵ز کال د اپریل په لومړۍ نیټه د مردان له لښکر کوټه یوه ۱۶۰۰۰ کسیزه فرقه د سر رابرټ لو، تر بولندې لاندې د ملکنډ - سوات - دیر پر کرښه باندې وخوځوله چې هر څومره ژر چې ممکن وي چترال ته دې ورسیږي. په دې عملیاتو کښې د سر رابرټ لو مرستیال سربنډون بلډ، وو. ددې لپاره چې لوستونکو ته ددې عملیاتو حجم او لویوالی معلوم شي; ددې ځواک د اکمالاتو د قدمې ( چې یوازې د یوې لوا د دوو ورځو آذوقه یې حمل کوله) د اوښانو قطار یې یو نیم میل اوږدوالی درلود. البته په دې ځواک کښې دوې لواوې مؤظفې وې.

د انګریزانو ددې لوی قوت د پر مختګ په مقابل کښې پښتنو آزادي پالونکي قبایل د ملکنډ له غاښې نیولې تر چتراله پورې بیسارې مقاومتونه وکړل او یرغلګرو ته یې ډیر مالي او ځاني تلفات واړول. خو ددې لوی منظم او مجهز ځواک پر وړاندې د توکمیزو لښکرو مقاومت ناشونی وو. انګریزي بې رحمه پانګواله پوځ ډیر زیات بېګناه پښتانه قتل عام، کلي او کورونه یې وران، څاروي یې په غنیمت قبض او کرهنیز فصلونه یې وسوځول. لنډه دا چې دغو په اصطلاح سپینو متمدنو او مهذبو ځواکونو د نولسمې پیړۍ په دغو وروستیو کلونو کې دا رنګه ظلم او وحشت وکړ چې تاریخ ته یې د دیارلسمې پیړۍ د چنګیز یادونه را تازه کړل. د ملکنډ غاښی ، د ۱۲۰۰۰ پښتنو له خوا نیول شوي وو، چې له کلک مقاومت وروسته د اپریل په دریمې نیټې د هغوی د مدافعې کرښه ماته شوه.
د انګریزي پوځونو نور عملیات ول چې په سوات او متعاقبو مورچلونو کښې یې ددوی لپاره د چترال لاره او د پنجګورې له سینده تیریدل آسانه او ممکن وګرځول. او د ۱۸۹۵ په آګست، کښې د لواړي له غاښي پرچترال ورننوتل. ددې ځواک له رسیدا سره د چترال د لښکر کوټ کلابندي ماته، عمراخان افغانستان ته پورې وت ، او چترال د انګریزانو لاس ته ورغی.

انګریزانو امیرالملک بندي او د هغه ماشوم زوی ،شجاع الملک یې د چترال مهتر و ګوماره، چې له ګلګت څخه یې د چترال چارې سمبالولې او د شمال لویدیز صوبه سرحد دا وروستۍ څنډه یې یو آرامه سیمه وګرځوله.

شجاع الملک تر۱۹۳۹ ز پورې د چترال واک په لاس کې درلود. او وروسته یې زوی ناصرالملک تر۱۹۴۳ز پورې د چترال مهتر وو. بیا د چترال مهترې ته د ناصر ورور مظفرالملک ورسید چې تر ۱۹۴۸ ز پورې په واک کښې پاتې شو.
مظفر، چترال یې د هندوستان د تجزیه کیدو په مهال پاکستان پورې وتاړه.
په ۱۹۴۸ کښې سیف الملک د مظفر زوی ،واک په لاس کښې ونیوه ، چې په ۱۹۵٤ کښې د الوتکې په پیښه کښې ووژل شو، او سیف الملک ناصر د هغه څلور کلن زوی پر تخت کښیناست چې تره یې نائب السلطنه وو.
سیف الملک ناصر، د چترال وروستنی مهتروو. په ۱۹۶۰ کښې چترال رسماً د پاکستان یو اداري واحد وګرځول شو.
د چترال د پخواني مهترانو پښت، اوس هم هلته د خپلو نیکونو په ارګ کښې ژوند کوي.

د انګریزي ښکیلاکګرو د یرغلونو پر وړاندې د پښتنو قبایلو د سرښندنو او مقاومتونو په اړه دلته غواړم یو څه سپیناوی وکړم. کله چې د ۱۸۹۳ز کال د ډسمبر پر دولسمې باندې د ډیورنډ تړونلیک لاسلیک او قبایل پوه شول چې دوی ددې تړون پر بنسټ له خپل پلرني ټاټوبي را جلا او په برطانوي هندوستان پورې وتړل شول نو له چتراله تر بلوچستانه پورې د خپلو پیاوړو مشرانو تر لار ښودنې لاندې یې پاڅونونه را پیل او له ښکیلاکګرو ځواکونو سره په سختو جګړو ونښتل. انګریزانو ددغو پاڅونونو د ټکولو لپاره ، ۷۵ زره کسیزه پوځ د سرحد په اوږدو کې ځای پر ځای کړ، چې د پښتنو مجاهدینو تر سختو بریدونو لاندې راغی. باید وویل شي چې له انګریزانو سره دا جګړې ټول د دیني او روحاني رهبرانوترمشرتابه تر سره شوي دي، چې دلته د څو مهمو شخصیتونو نومونه اخیستل اړین ګڼم.
غازي عمرا خان د باجوړ د سیمې د مجاهدینو لوی بولندوی ، مولوي عبدالغفور (رح) چې په سوات صاحب مشهور دی، او د سوات او بونیر په سیمو کښې یې د مجاهدینو مشري کوله. مولوي نجم الدین آخندزاده، چې په هډې صاحب شهرت لري، او د مومندو د قبیلې د مجاهدینو مشر توب یې کاوه، ملا سید اکبر چې د خیبر او تیرا په درو کښې د افریدو د قام لار ښودنه یې کوله، او ملا پونده صاحب چې د وزیرو او مسودو غازیانو په شمالي او جنوبي وزیرستان کښې لوی لار ښود وو. ملا پونده صاحب ، ځان یې د طالبانو د پاچا په نوم هم یادول او انګریزانو یې تر ټولو خپل سخت دښمن ګڼل . ویل کیږي چې ملا پونده صاحب په خپل وصیت لیک کښې چې د هغه په قبر ولوستل شو خپلو پیروانو ته یې سپارښتنه کړی وه چه باید د انګریز په مقابل کښې جهاد ته دوام ورکړي. ۱۸۹۷ زکال د قبایلو تر ټولو د شدیدو قیامونو کال وو.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پورتني مشران د افغانستان د وخت د باچا ضياالملت والدين امير عبدالرحمن خان، مادي او معنوي كلک ملا تړ درلود. د ۱۸۹۷ کال په اوړي کښې د قبايلو د سيمې د مجاهدينو ډير مشران کابل ته را بلل شوي وو، چې له امير څخه د جهاد په برخه کښې هدايت واخلي.
همدارنګه، امير عبدالرحمن خان د تقويم الدين په نامه يوه رساله چې پکښې مسلمانان يې جهاد ته هڅولي ول ليکلې ، او د قبايلو په سيمه کښې يې پر ټولو ملايانو او پيرانو ويشلې وه چې ديني عالمان ورڅخه د وعظ په منبرونو ګټه واخلي.
بايد روښانه شي چې د برتانوي ځواک د نيواک پر وړاندې د پښتنومبارزه او مقاومت له ۱۸٤۹ زکال څخه کله چې دوی د پښتنو دا سيمې له سيکانو څخه ونيولې پيل او تر ۱۹٤۷ پورې کله چې دوی له دې سيمې څخه ووتل دوام درلود. د کال ۱۸٤۹ تر کال ۱۸۷۹ پورې انګريزانو په قبايلي سيمو باندې ۳۷ لوی سوقيات کړي، چې په هر دوو کلونو کښې تقريبا درې عمده لښکر کښی کيږي.

له ۱۸۷۹ کال وروسته هم خونړيو جګړو لکه پخوا دوام درلود. په کال۱۸۹۹ ، کښې لارډ کرزن د انګريزي هندوستان وايسرای شو. هغه، انګريزي منظم فوځونه د قبايلو له سيمو وايستل او پر ځای يې قومي مليشې و ټاکلې کړې، او هم په اصطلاح يو نوی اصلاح شوی مخ په وړاندې پاليسي يې طرح کړه.
د کرزن دا نوې بدلونونه اغيزمن و نه بريښيدل او پر انګريزي بنسټونو باندې د قبايلو يرغلونو تر پايه دوام درلود. د وزيرو او مسودو په سيمو کښې د ايپي فقير صاحب ددې چپاونو لاړښوني يې کولې.
همدارنګه د انګريزانو سوقيات د قبايلو په سيمو جاري پاتې ول. ددې دورې جګړې، د" ويلکاکس د هفتې د پای" په جنګونو مشهور دي.
(Wilcox's weekend wars, named after Gen. Sir Wilcox who waged them against the tribes)

په کال ۱۹۱۹ کې د افغانستان د خپلواکۍ په جګړه کښې، پښتانه قبايلي مليشه جنګيالي چې د انګريزانو تنخوا خواره هم ول له ملکنډه د بلوچستان تر ژوبه پورې له خپلو وسلو سره خپل افغاني ورونو خواته واوښتل او د هغوی په ملا تړ په جګړه کښې را ګډ شول.
وروسته په پښتونخوا کښې د خان عبدالغفار خان اصلاحي، ښوونيز او روزنيز پروګرامونه په کال ۱۹۲۹ کښې د يوی منظمې سياسي ډلې په اډانه کې د "خدايي خدمتګار" ترنامه لاندې جوړ شول. دې ډلې د پښتون قام د اصلاح لپاره پراخې موخې درلودلې؛ چې د ښکيلاک ضد خاصيت پر بنسټ يې تر ټولو ستره موخه له هيواد څخه د انګريزانو شړنه وه. ددې ډلې لارښود او بنسټ اېښودونکی، خان عبدالغفار خان د يوه بنسټيز نوښت له مخې د پښتنو د دود برخلاف چې د دښمن سره د توري په ژبې فيصله کول، د عدم تشدد او عدم همکاري د لارې مبارزه يې غوره او له ملک څخه د انګريزانو تر ويستلو،(۱۹٤۷ کاله) پورې يې په ډيرې ميړانې خپلو سرښندونو ته دوام ورکړ. د خدايي خدمتګارو مبارزې ، البته د پښتنو د معاصر تاريخ يوه ډيره په زړه پورې ، رڼه او مهمه برخه ده چې که ژوند مهلت راکړ بيا به پرې بحث وکړو.
په پای کښې بايد ياده کړم چې په کال ۱۸۱۸ ز کښې سيکانو د افغانستان د دراني واکدارانو له اختلافاتو په ګټې آخستلو سره ختيز افغانستان ونيو، او په کال ۱۸٤۹ ز کښې بيا انګريزانو سيمه له سيکانو څخه په خپله ولکه کې راوستله. که انګريزان نه وای را مينځ ته شوي نو افغانانو خامخا خپله خاوره له سيکانو څخه بيرته نيوله، خو د انګريزانو نيواک دا اميد لا پيچلې او په يوې دايمي ستونزې بې بدله کړه. انګريزان په ۱۹٤۷کال کښې له سيمې ووتل خو سخت جنجالونه يې شاته پريښودل چې دا سيمه به ترې تر ډيره په آرامه پاتې نه شي. البته له کال ۱۸۱۸ ز تر ۱۹٤۷ ز پورې دا، ۱۲۹ کلنه دوره هم د ژورو پلټنو او څيړنو غوښتنه کوي چې بايد افغان تأريخپوهان او د نظر خاوندان پرې شننې وکړي او راتلونکو نسلونو ته يې روښانه کړي.

پای

References

Dupree Louis, Afghanistan , Prinston ۱۹۸۰
Charles Miller, Khyber. Macmillan Publishing Co. Inc.
Churchill Sir Winston, The Story of The Malakand Field Force ۱۸۹۷
Web sites


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ